# د ملا ارزاني په شعر کې تصوفي ترکيبونه

عبيدالله اغېز

پوهنمل، پشتو، تعليم و تربيه، مؤسسه تحصيلات عالی غور، فيروزکوه، افغانستان (نويسنده مسئول).
Obaid2024@ghru.edu.af

تاريخ دريافت:۱۴۰۳/۳/۳۱ – تاريخ پذيرش: ۱۴۰۳/۶/۲۹ – تاريخ نشر: ۱۴۰۳/۱۲/۲۰

**چکيده**

د يو شاعر په شعري پنځونو کې شاعرانه ترکيبونه د دوو کلمو ګډ تړون او د لفظونو له تړښت نه رامنځته کېږي، يعنې د بېلابېلو شعري توکو د خپلمنځي تړاو نه رازېږي، خو دا ترکيبونه بېلابېل اړخونه هم لري. يو ترکيب په خپله ځانګړې او بشپړه معنا او مفهوم نه ورکوي، بلکې د نورو کلمو او لفظونو سره همغاړې خپله معنا او ځانګړی مفهوم رسوي، په دې ډول جوړښتي اړخ سره پوره مطلب لېږدولی شي. په تصوفي پنځونو کې تصوفي ترکيبونه او تړنګونه د يوې اړتيا له مخې پېيل او يا رامنځته کېږي چې يو نوی تړاو پيدا کوي او نوې تجربې راښيي، خو دا نوې تجربې او اړيکې د تصوفي مشاهدو او تجربو په مټ کېږي، که دغسې تصوفي ترکيبونه په خپله کومه معنا ونه‌لري، خو د نورو تصوفي لفظونو، مشاهدو او تجربو له مخې ورته معناوې، سېمبولونه او ارزښتونه ټاکلی شي. دا ډول تصوفي ترکيبونه د نورو شاعرانه ترکيبونو سره توپير لري او متفاوت رنګونه او معناوې ورکوي. د ملا ارزاني شعرونه هم له داسې تصوفي ترکيبونو ډک دي، خو د ده دا ترکيبونه تصوفي صفتونه، اړخونه او رنګونه لري، په دې ترکيبونو کې سېمبوليک، کنايوي او استعاري اړخونه او کوډونه په څېو دي چې د عادي ژبې له مخې يوه معنا لري، خو چې د بيت له نورو لفظي او معنوي اړخونو سره يې اړيکه او تړاو وګورو، پوهېږو چې معنا او رنګ يې بېل دی، دا بېل رنګ يو بل څه وړاندې کوي چې هغه تصوفي اړخونه او تعبيرونه رانغاړي.

**کليدي کلمې:** ارزاني، ترکيب، ترکيبي سېمبول، تصوف، تصوفي تړنګ

**استناد**: اغيز، عبيدالله (۱۴۰۳). د ملا ارزاني په شعر کې تصوفی ترکيبونه. *مجله علمی- تحقيقی مؤسسه تحصلات عالی غور، سال اول*، شماره ۱، صفحه ۱۴۷-۱۷۱.

# Sufic Compositions in the Mulla Arzani's Poetry

**Obaidullah Aghez**

Pohanmal, Pashto, Education, Ghor Institute of Higher Education, (Corresponding Author) Obaid2024@ghru.edu.af

Received: 20/06.2024 | Accepted: 19/09-2024 | Published: 28/6/2025

## Abstract

In a poet's poetic creations the poetic compositions, are created from the joint consent of two words and the connection of words, that, there is interrelationship between different poetic components, but these compositions also have different aspects. A compound or phrase does not give a specific and complete meaning and concept on its own, but it conveys its own meaning and special concept together with other words and phrases. Sufic compositions in Sufism are initiated or created by a need that creates a new relationship and shows new experiences, but these new experiences and relationships are based on Sufic observations and experiences. If these Sufic compositions does not have any meaning by its own, but according to other mystical words, observations and experiences, the same meanings, symbols and values can be determined. Such mystical compositions are different from other poetic compositions and give different colors and meanings. Mulla Arzani's poems are also full of such mystical compositions, but these compositions have mystical attributes, aspects and colors. In these compositions, there are symbolic, sarcastic and metaphorical aspects and codes in waves that have a meaning according to ordinary language. But if we look at its relationship with other verbal and spiritual aspects of the verse, we know that its meaning and color are different, and this different color determines a unique part so that covers Sufism’s aspects and perceptions.

***Keywords:*** Arzani, poetic, connection, Sufic, symbol

**Cite this article:** Aghez, O. (2025). Sufic compositions in the Mulla Arzani's poetry. *Scientific-Research Journal of Ghor Institute of Higher Education, 1* (1), 147-171.

**سریزه**

په شعر کې شاعرانه ترکیبونه او تړنګونه حتمي پنځول او پالل کېږي چې دا تړنګونه دوو یا له زیاتو کلمو او لفظونو سره یو ګډ تړون پالي چې یوه بله معنا رامنځته کوي. ملا ارزاني هم په خپله شاعرۍ کې د تصوفي فکرونو، تجربو، مشاهدو او خیالونو سره سره تصوفي تړنګونه ډېر راپنځولي دي، خودا تړنګونه یې تصوفي صفتونه، اړخونه او رنګونه لري، یعنې د صفت او موصوف تر منځ یې یوه تصوفي اړیکه او تړاو راتېنګ کړی. ده په خپل شعر کې د تصوفي ښوونو او لارښوونو ترخوا خپلې صوفیانه تجربې او مشاهدې هم انځور کړې. همدې اړخونو یې شعر کړکېچن کړی او پېچلتیا یې وربښلې. د دې تر خوا یې په خپل شعر کې پېچلي او کړکېچن ځانګړي تصوفي تړنګونه هم کارولي، خو دا چا نه دي راسپړلي او موږ په دې لیکنه کې هڅه کړې چې د ملا ارزاني په شعر کې ځانګړي تصوفي تړنګونه راوسپړو او د شننې په تله یې وتلو. دا ځانګړي تصوفي تړنګونه په بیتونو کې یوازې لږ څه په تحلیلي بڼه راسپړل شوي، خو د بیتونو نورو تصوفي او معنوي اړخونو باندې یې بحثونه نه دي شوي.

د پښتو عرفاني ادبیاتو په دې برخه کې د ځانګړو تصوفي تړنګونو تشه په مخکې پرته وه او ده، نو دا څېړنېزه لیکنه په خپل ځای کې ارزښتمنه ده او ارزښت یې په دې کې دی چې تصوفي تړنګونه به په نوې بڼه راوسپړل شي، یو یو به په ګوته کړای شي، ښه به تشـریح او تحلیل شي. بله داچې د نورو شاعرانو له پنځونو به داسې نور تصوفي تړنګونه راوویستل شي او ځوان لیکوال به وهڅېږي چې په دغسې کار لاس پورې کړي او د څېړنېز ذوق پاللو سره به د ادبپوهنې په دې برخه کې نوښتونه رامنځته کړي او نوې لارې به وپالي.

که څه هم د ملا ارزاني او هم یې د شعر په اړه ځینې هڅې شوي او په دې برخه کې ځینې لیکنې مخې ته راځي، خو د ځانګړو تصوفي تړنګونو په اړه یې لا تر اوسه چا یوه کرښه او نیمه پاڼه هم نه ده لیکلې. همدې تشې ته په کتو سره یاده موضوع څېړل شوې او په هر تصوفي تړنګ باندې بحث ترسره شوی. دا خبره اړینه ده چې د تصوفي فکرونو او تجربو له مخې په پنځونو کې داسې ځانګړي تړنګونه له کومه پیدا کېږي او څنګه یې پېژندلی شو او یا یې یو شاعر د کومې اړتیا له مخې کاروي؟ دا او دې ته ورته د نورو پوښتنو ځواب به په دې څېړنېزه لیکنه کې په مخه در شي.

**د څېړنې کړنلار**

دا څېړنه تر ډېره تحليلي او تشريحي بڼه لري، مېتود يې لږ څه انتقادي اړخ خپلوي، خو بڼه او ډول يې په بشپړه توګه کتابتوني دی

**اصلي متن**

موږ دلته خبره په تصوفي ترکيبونو کوو، نو له دې وړاندې وايو که د يو شاعر شاعرانه باغ ته وردننه شو، نو خواږه يې په شاعرانه کلمو، په شاعرانه لفظونو، په تکراري تورو او په نوښتي ترنګونو کې حس کېږي. په دې خوږو توکو کې ګڼې معناوې، تعبيرونه او انځورونه په څپو وي چې يوې عادي او ساده خبرې ته شاعرانه رنګ او خوند وربښل شوی وي، دا رنګونه په شاعرانه ترکيبونو او ښکلاييزو انځورونو او جذبو کې وړاندې کوي او خپلې ساده خبرې ته د هنريت او شعريت کالي وراغوندي. دا ټولې شاعرانه کلمې او ترکيبونه د شاعر د ذهني، ځاني، نفسي او دروني تجربو او مشاهدو څرګندونه کوي. شاعر د شعر هنريت او شعريت د کلمو او لفظونو په لوړ تخيل، خيال، عاطفه، احساس، انځور، فکر، ترکيب، سېمبول، ابهام، حس اميزي، پراډاکس، تشبيه، استعاره او کنايه کې رانغاړي چې دا توکي بيا خپل جادويي او کوډګر اغېز ښندي.

که ترنګ د نحوي له مخې وشنو، نو د دوو يا له دوو زياتو کلمو او لفظونو يو ترښت او ګډ ترون دی چې يوه دريمه کلمه رامنځته کوي او ځانګړې معنا ښندي، يعنې «ترکيب د دوو يا زياتو (خپلواکو او ناخپلواکو) کلمو او مورفيمونو يو ځای کېدو څخه عبارت دی چې اجزا يې يو له بله سره ګرامري ارتباط ولري» (رښتين زيور، ۱۳۸۲، م ۳۹).

په ترنګ کې يو اړخ په بل اړخ پورې تړل شوی وي، يعنې يو نوم مضاف اليه او بل يې د مضاف بڼه خپلوي، يا په بله معنا «يوه کلمه يې د بلې کلمې تابع وي او تر کلمې پراخ مفهوم څرګندوي او...»(هلال، ۱۳۹۰، م ۱۰).

دا ترنګونه په نحوي سپړنو کې بېلابېل ډولونه او رنګونه لري، لکه «نوميز ترکيبونه، فعلي ترکيبونه، اضافي ترکيبونه، توصيفي ترکيبونه، عددي ترکيبونه، قيدي ترکيبونه، تاکيدي ترکيبونه، اداتي ترکيبونه، ارتباطي ترکيبونه، عطفي ترکيبونه، ندايي ترکيبونه او نور...» (هاشمي، ۱۳۸۳، م ۵۸).

دلته یې په نحوي اړخونو نور نه غږېږو او هسې یې یوه یادونه وشوه. په پښتو شعر کې شاعرانه ترکیبونه دوو یا له زیاتو کلمو او لفظونو یو ګډ تړون دی چې یوه بله معنا رامنځته کوي، خو په شعر کې دا تړنګ له کومه پیدا کېږي او څنګه یې پیژندلی شو، دا ډېره اړینه خبره ده.

پښتو ژبه په ټولو برخو او اړخونو کې د خپلو ځانګړو کلمو، لفظونو، ځانګړو ترکیبونو، تړنګونو، تخیلاتو، تصوراتو، عواطفو، جذبو، احساساتو او انځورونو خپلې بڼې لري او خپل رنګونه، خپل موسیقیت، خپل وزنونه، خپل کیفیتونه، خپل جوړښتونه، سکښتونه او ارزښتونه لري، یعنې دا هر څه د پښتوژبې په رنګ کې رنګین ښکاري. کله چې شاعر یو شعر پنځوي، نو لوی هنر یې د شاعرانه کلمې، شاعرانه لفظونه او شاعرانه ترکیبونو جوړول دي چې د څو کلمو او ګډو لفظونو له یو ځای کېدو او ګډ تړون نه ځانګړې او نوې معناوې ایجادوي که هغه ګرامري اړخونه ولري او یا یې هېڅ ونه لري، ځکه په شاعری کې ګرامري قاعدې او اړخونه نه پالل کېږي، خو دا تړنګونه یو خوځنده او لوړ تخیل لري، یو انځور لري او یو فکر لېږدوي، دا ځکه چې په شاعری کې تخیل، انځور او فکر لوړ ارزښت لري او ترکیبونه هم د لوړ تخیل او خیال زېږنده وي، خو لوړه عاطفه، یو ښکلی انځور او یو روغ فکر به هم ورسره په نورو توکو او لفظونو کې غاړه غړی وي او تر منځ به یې د تړاو رنګونه او اړیکې په څپو وي او ښکلاییزې شېبې او جذبې راپاروي. دا د لوړې شاعری معنوي توکي او ارزښتونه دي. په دې ترکیبونو او تړنګونو کې تخیل باید په عاطفه، انځور او فکر پیاوړی وي او که عاطفه پر تخیل پیاوړې شوه، د شعر تخیلي تومنه کمرنګې کېږي او عیبونه رامنځته کوي، دا ځکه «بریالی شاعری هغه ده چې خیال او عاطفه پکې غاړه غړی وي او د یو بل له ختمولو نه پیاوړي کولو سره مرسته وکړي. دا ډول شاعري ناوړه پېچلتیا نه لري او له نا اړینې ساده‌ګی نه محفوظه وي»(ښکلی، ۱۳۹٦، م ۴۴).

موږ په خپل طبیعت، ټولنیز چاپیریال او ژوند کې له هر څیز، شي او توکي سره یو نومیز تړاو لرو او دا هر څیز بېلابېل نومونه او رنګونه لري چې دا ورته له مخکې ورکړل شوي او یا یې را خپل کړي. دا چې شاعر هم د ټولنې او طبیعت وګړی دی، نو رنګونه، انځورونه او فکرونه هم ترې خپلوي، په ذهن کې یې پخوي، ځاني، دروني او نفسي تجربې او مشاهدې یې ترسره کوي او بیا یې په خپلو پنځونو کې په شاعرانه انداز رانغاړي او هنریت ورته ورکوي، په شاعرانه کلمو او لفظونو سره پېچي او په دې هنریت کې تخیل، د خیال او عاطفې، د انځور او فکر تر منځ تړاو سره پیوندوي.

کله بیا شاعر هغه څه خپلو پنځونو ته ننباسي چې نوم نه‌لري او یا د تخیل په زور داسې نوم او ځانګړنه رامنځته کړي او یو نوښت ورکړي چې هم نوی نوم شي، هم نوې خبره شي، هم نوی خیال او ښکلی انځور شي، هم ښکلاییزه جذبه شي او نوي نوي ترکیبونه شي، دا بیا خلک له دې لارې او اړخ پېژندلی شي، په دې نوښتګرۍ سره ژبې ته نوې کلمې او لفظونه ورکوي.

دا چې شاعر کوم نوي ترنګونه جوړوي او په نوښتي ډول یې رامنځته کوي، نو نوې معناوې او فکرونه، نوي خیالونه او انځورونه هم لري، یعنې «کله چې ژبنۍ زېرمې د شاعر د نوي فکر د انځورونې لپاره اړین عناصر، توکي او کلمې ونه لري، د شاعر ژبه خوځنده کېږي او نوې کلمې، ترنګونه او ترکیبونه ورته جوړوي، شاعران چې له فکر نه بهر ژوند کولی شي د ژبې له چوکاټ او سکښت نه بهر هم پاتې کېدلی شي. شاعر د هرې کلمې په پنځونه کې یو نوی فکر هم تولیدوي چې د شاعر په مرسته د ژبې بډاینه همدې ته وايي»(علي پور، ۱۳۸۷، م ۲۳۶).

په شعر کې ترنګونه د کلمو او لفظونو ترښت، د تورو شاعرانه تکرار، موسیقیت او وزن، شرنګېدلې قافیې او ښکلي ردیفونه، دا ټول یو له بل سره غاړه غړۍ کول او ښه تړاو ورکول د شعریت بهرني توکي ګڼلی شي چې دا خپل خوندونه او رنګونه لري، بیا د دې ترنګونو او لفظونو تر شاه خوځنده انځورونه او پارونکي تخیلات په څپو وي، دغه انځورونه یو شور او خوځښت لري، یو فکر او خیال لري، یو لوړ تخیل او جذبه، یو احساس او عاطفه لېږدوي. اوس دا ویلی شو چې شاعرانه ترنګونه د دوو کلمو ګډ ترون، د جوړه او نښتو لفظونو له ترښت او امتزاج نه رامنځته کېږي، یعنې د بېلابېلو شعري توکو د خپلمنځي تړاو او ترون نه راپیدا کېږي، خو دا ترنګونه بېلابېل اړخونه او رنګونه هم لري. دا خبره هم اړینه ده او باید وویل شي چې ترنګ په خپله ځانګړې او بشپړه معنا او مفهوم نه لري، بلکې د نورو کلمو، لفظونو او توکو سره همغاړې خپله معنا او مفهوم څرګندوي او بیا ترې لوستونکي پوره مطلب اخیستلی شي.

که په یو بیت کې (د ګل رخسار) ترنګ سره مخ شو، نو په دې ترنګ په اسانۍ سره پوهېږو، خو که داسې یو ترکیب پکې ووینو چې پخوا مو نه دی لوستی، نو څرنګه چې دا ترکیب او ترنګ د شعر له معنویت او معنا سره اړیکه لري، دا شعر راته یو ډول نوی ښکاري، ځکه د ګډو کلمو او د تکراري لفظونو له تړاوه پیدا کېږي او یو نوی رنګ او نوې معنا لېږدوي، دې ته په کتو که شاعر (ګل رخسار) ترنګ کاروي، نو هنر نه راپنځوي، خو د دې پر ځای د محبوبې د مخ لپاره یو داسې

نوی تړنګ پیدا او راوپنځوي، دا به يې خپل نوبت کړی وي، ځکه د زوړ ترکیب او تړنګ پر ځای يې نوې ترکيبي تجربه او اړیکه ایجاد کړه. دلته یو ډول جادويي اغېز او نوی تاثر رامنځته شو او یا يې نوې خبره په شاعرانه انداز وکړه. همداسې تصوفي ترکیبونه او تړنګونه هم درواخلئ.

دا خبره هم اړینه ده چې تړنګ کله په سېمبول هم اوړي او سېمبول د شعر یو جز او توک دی، خو سېمبولیک اړخ داسې کل اړخ دی چې د شعر نوې ځانګړتیاوې ولري، یو تړنګ له دوو اړخونو کتلی شو، یعنې په خپله ترکیبي اړخ يې پیاوړی دی او که سېمبولیک اړخ يې غالب دی. په بله معنا مرکزي او محوري کلمه يې کومه ده؟ دا کله د دواړو اړخونو سره په تړاو کې یوه معنا ښندي او کله بیا سېمبول خپله او ترکیب خپله معنا ورکوي.

د پښتوادب د منځنۍ دورې لومړي پړاو کې د روښانیانو تصوفـي او عرفانـي لیدونو او فکرونو، تجربو او مشاهدو کې تصوفي تړنګونه په ګوته کول او راسپړل يې سخته چاره ده، دا ځکه دوی په خپلو شعرونو کې له ډېرو پېچلو، کړکېچنو او درنو تصوفي او عرفاني اصطلاحاتو او نومونو سره سره داسې درانه تصوفي ترکیبونه هم کارولي دي چې سپړنه او شننه يې ډېر فکر او ژوره مطالعه غواړي. په دې تصوفي ترکیبونو کې د بایزید روښان د تصوفي تګلارې او کړنکلارې مسلک او اصول تشـریح او تحلیل کړي دي. د دې ترخوا يې د خپلو ځانګړو ریاضتونو، تجربـو او مشاهدو رنګونه هم پـې ښپاند کړي. دلته موږ هڅه کوو چې یوازې او یوازې د تصوفي لید او فکر له مخې د ملا ارزاني په شعر کې تصوفي تړنګونه راوسپړو، ځکه ده هم په لوړه کچه خپلې ذهني، ځاني، دروني او نفسـي صوفیانه تجربې او مشاهدې راښکاره کړي او په خپل شعر کې يې د تصوف یو فکر او لید په کړکېچن انداز پاللی دی. ده د تصوفي او عرفاني اصطلاحاتو او نومونو سره سره خپل ځانګړي تصوفي ترکیبونه هم کارولي، دا ترکیبونه يې په تصوفي ذهن کې پاخه کړي، ځاني تجربې پـې ترسره کړي، دروني او نفسـي مشاهدې يې ورسره غاړه غړۍ کړي چې په یو ښه او مقدس تصوفي مفهوم اړولي دي، په دې تجربوي نښو نښانو کې يې پټې او پېچلې معناوې پټې دي، خو د شاعر تصوفي شخصیت له مخې د پوهاوي وړ دي. پر همدې بنسټ ملا ارزاني په خپل شعر کې دا ډول ترکیبونه دومره په درنه کچه راوړي چې په هر غزل کې يې حس کولی شو.

په تصوف کې تصوفي تړنګونه چې په تصوفي نظمي متونو کې وپېیل شي، نوې اړیکې پیدا کوي، نوې تجربې وړاندې کوي، دا نوې اړیکې د تصوفي مشاهدو او تجربو له مخې کېږي که

دغسې تصوفي ترکیبونه په خپله کومه معنا ونه‌ښندي، خود نورو تصوفي لفظونو، تصوفي توکو، ریاضتونو، مشاهدو او تجربو له مخې ورته معناوې، انځورونه، سېمبولونه او ارزښتونه ټاکلی شي او هم د تشبیه ګانو، استعارو او کنایوي اړخونو په مټ راسپړلی او شنلی شو. دا ډول تصوفي ترنګونه د نورو شاعرانه ترکیبونو سره جوت توپیر لري او متفاوت رنګونه او معناوې ښندي، یعنې «دا ځانګړي ترکیبونه هغه کلمې دي چې په عیني بڼه په عادي ډول نه کارېږي او دا یو ډول ځانګړي ترکیبونه دي چې په ژبه کې یې جوړښت او معنا د نورو ترکیبونو سره معمولاً د پام وړ توپیر لري»(شفیعی کدکنی، ۱۳٦٦، م ٦۴).

په روښانیت کې چې کوم ډول تصوفي فکرونه، لیدونه، تصوفي ښوونې، لارښوونې، تجربې او صوفیانه آداب دود او ښه پالل کېدل، نو له دې سره ملا ارزاني خپلې ځاني تصوفي مشاهدې، دروني او نفسي تجربې همغاړې کړي او یو ډول نوښتي تصوفي اصطلاحات او تصوفي نوې ترکیبونه او ترنګونه یې راپنځولي دي. په ټوله کې زموږ د شاعری په شاعرانه ترنګونو کې ستاینومیز او توصیفي ترکیبونه ډېر حس کېږي چې زیاتره شعرونه یې ترې ډک دي، خو د ده دا ترنګونه تصوفي صفتونه، اړخونه او رنګونه لري، یعنې د صفت او موصوف تر منځ یې یو تصوفي اړیکه او تړاو رامنځته کړی؛ که دا ترنګونه په بیت کې په نښه کوو، نو د بیت په جوړښت او سکښت کې له نورو توکو او کلمو سره یې د مفهوم او معنا په اړیکې او تړاو پوهېدلی شو، خو د بیت د نورو توکو او کلمو د تشریح او سپړنې سره کار نه لرو، ځکه زموږ موخه یوازې تصوفي ترنګونو په ګوته کول دي او یا د خپلې موخنې معنا او مفهوم لپاره د شاعر له تصوفي شخصیت نه د یوې تصوفي وسیلې په توګه کار اخلو، نو خپله یاده موضوع داسې راپیلوو:

- ✓ **یوه ګرامه:**

دا په نحوي بڼه یو عددي ترنګ دی چې یو پراخ او مرکب مفهوم لېږدوي.

دا هـــــژده هـــــزار قامونـــــه

کل پیـــــدا لـــه <u>یـــوه ګرامـــه</u>

(خویشکی، ۲۰۰۵، م ۲۴۸).

په دې بیت کې (یوه ګرامه) ترکیب د نورو توکو او کلمو تر منځ اړیکه پالي او یو تصوفي تړاو لري، خو د بیت محور او مرکز همدا ترکیب دی چې د شاعر ټېنګار او تمرکز ښیي. د دې تصوفي

ترکیب نه د شاعر موخه د یو احد او صمد ذات یووالی او یو ګڼل دي، یعنې د حقیقي وحدت موخه د حق هستي یو ګڼل دي، ځکه د ټولو اشیاوو او مخلوقاتو وجود د حق تعالی تجلـي ګڼل کېږي چې په هر څه کې يې نورانيت ځلېږي. دا ټول يې پيدا او هست کړي دي. دلته (یو) عدد دی چې د (احد او یو ذات) لپاره يې سېمبولیکه نښه بللی شو.

✓ **توره يـړه:**

دا بيا په نحوي بڼه یو توصیفي ترکیب دی، یعنې ستاینوم ترنګ (توره) او (یـړه) یـې ستایلی او صفتـي نوم دی. دلته د صفت او موصوف اړیکه تصوفي اړخ لري.

دا نفسک دی تـــوره یړه
دی بندي لـــــره په لـوړه
(خویشکی، ۲۰۰۵، م ۲۵۰).

په دې بیت کې (توره یړه) ترکیب د خپلو نورو توکو او لفظونو تر منځ اړیکه لري، خو ورسره د بیت مرکزي مفهوم راجوتوي او په تصوفي اړخونو او تعبیرونو کې بیا یو تصوفي کنایوي ترکیبي سېمبولیکه نښه ده چې د اماره نفس او شېطان دواړو ته په کنایوي بڼه کارېږي او دا دواړه په تصوف کې رذیله، پلیت او ناوړه ګڼل شوي دي.

✓ **د لوړې تېغ**:

دا هم په نحوي لحاظ یو اضافي ترکیب او ترنګ دی چې د اضافت (د) توري په مرسته له یو بل سره يې اړیکه ټېنګه شوې چې مضاف د مضاف الیه نه وروسته ځان څرګند کړی.

دا د لــــــــــــوړې تېغ در واخـــــــــله
پـــــــرې پلیت نفسک وکـــــــــــوړه
(خویشکی، ۲۰۰۵، م ۲۵۰).

په دې بیت کې هم (د لوړې تېغ) ترنګ د خپلو نورو توکو او کلمو سـره په ټراو یو تصـوفي مفهوم رسوي چې د بیت مرکزي محور راښیي. په دې ترنګ د شاعر ټېنګار خورا زیات دی. دا په تصوف کې یو بل کنایوي ترکیبي سېمبول دی چې د اماره نفس لپاره په کنایوي بڼه کارېدلی. اماره نفس د حیواني غریزو نه جوړ دی، دا امر کوونکی او سـرغړونکی نفس دی چې په ټولو نفسـونو کې ټیټـه درجـه لري. دې ته «ځکه اماره نفس وایي چې خپل مالک ته د بدو خوا ته امر کوي...

ځینو ویلي چې دغه نفس له حیوانیه نفس نه چې لکه څلور بولو په شان پرته له خوړلو څښلو په بل څه نه پوهېږي»(نقشبندي، ۱۳۸۹، م ۶۲).

✓ **اسم شانه:**

دا هم یو نحوي نومیز ترنګ دی چې یو پراخ او مرکب مفهوم څرګندوي.

د «دې» اســــم شانه واخـــله

پـــرې وکاږه د شـــــــرک سپېره

(خویشکی، ۲۰۰۵، م ۲۵۰).

په دې بیت کې (اسم شانه) نومیز ترکیب او (د شرک سپېره) اضافي ترنګ د خپلو نورو توکو او کلمو سره په تړاو یو تصوفي تعبیر او معنا لري، خو دا ترنګونه د بیت مرکزیت رانښيي. دلته به لومړی (اسم شانه) نومیز ترنګ باندې خبره وکړو، اسم په مجازي معنا، په اصل کې د یو شي او پدیدې نوم څرګندوي چې د هغو جوهر او حقیقت رانښيي او په تصوف کې ټول اسماء او صفات حقیقتاً یوه آر او اصل ته رجوع ده، ځکه الله تعالی دی چې د ټولو اسماء الهي جامع اسم دی او په ټولو الهي صفتونو او ستاینو کې ګڼل، وړ او لایق دی.

شانه بیا یوه غاښېزه اله ده چې ږمنځ یې بولو او دنده یې د سر او ږیرې ویښته منظم، صافول او جوړول دي، خو «په تصوف کې د اماره نفس او زړه دواړو لپاره یو کنایوي سېمبول دی چې د نفس او زړه نه پلیتی، تردېد، شکونو، ناپاکیو او خیرو صفایي، پاکوالی او سوتره توب دی. په تصوف کې د دې سېمبولیک ترکیب موخه دا ده کله چې الله تعالی ته رجوع کېږي، نو بیا سالک او صوفي له نفس او زړه دواړو نه ټول شکونه، خیرې او ناپاکي وباسي» (اغېز، ۱۴۰۱، م ۹۶).

✓ **د شرک سپېره:**

دا هم په نحوي بڼه یو اضافي ترکیب او ترنګ دی چې د اضافت «د» توري په مرسته له یو بل سره اړیکه ټېنګه پالي.

د «دې» اســــم شانه واخـــله

پرې وکاږه د شـــــــرک سپېره

(خویشکی، ۲۰۰۵، ۲۵۰).

په دې بیت کې (د شرک سپیره) یو اضافي ترنگ دی چې د خپلو نورو توکو او لفظونو سره په تړاو یو تصوفي تعبیر اومعنا لري، خو دا ترنگ د بیت په مرکزي ټکي کې خپله ځانگړتیا لري. په تصوف کې دا ترکیب او ترنگ یو کنایوي ترکیبي سېمبول دی چې د الله تعالی سره په ټولو ذاتي، فعلي او ازلي صفتونو کې هېڅوک سیال او گډ نه شته، بلکې الله تعالی یوازې او احد ذات دی که چا ورسره څوک شریک او سیال وگاڼه او په بل چا یې د باور گوتې کېښودې، نو شرک یې وکړ او شرک کفر دی، یا بتپالنه هم شرک دی، یعنې چا چې بتپالنه وپالـله، هغه په بشپړه توگه له اسلام نه ووت.

✓ **شپږ رخه:**

دا په نحوي بڼه یو عددي ترکیب او ترنگ دی چې یو پراخ او مرکب مفهوم وړاندې کوي.

هر اشیاء لري شـــــــــپږ رخه

مولی پاک دی لـــــــــه دې شپږه

(خویشکی، ۲۰۰۵، م ۲۵۰).

په دې بیت کې (شپږ رخه) ترکیب د خپلو نورو توکو او کلمو سره په تړاو یو تصوفي تعبیر او مفهوم لري، خو دا ترنگ د بیت مرکزي ټکی څرگندوي او په همدې د شاعر ټینگار هم دی؛ که څه هم دا لوري او اړخونه دي چې د یو شي، توکي او څیز اړخونه څرگندوي، یعنې څلور اړخونه او لاندې او باندې برخه هم پکې شامله ده او یا د دنیا څلور خواوې، جمع یې ځمکه او اسمان دي، خو زما په فکر دا هماغه شپـږ تنزلـه او مرتبـې دي، یعنې د احدیت مرتبه، وحدت مرتبه، واحدیت مرتبه، ارواح عالم، مثال عالم او د اجسامو عالم دي. دا شپـږ واړه اړخونه هر یو په تصوف کې بېلابېلې سېمبولیکې بڼې او نښې لري، خو که خبره تشـریح او سپړنې ته لاړه شي، نو دا هر اړخ یې ترکیبي تصوفي اصطلاح گـرځـي.

✓ **د حق بلبل:**

دا په نحوي لحاظ یو نومیز اضافي ترنگ دی چې یو پراخ او مرکب مفهوم لېږدوي. بله دا چې د نسبت او قرابت څرگندوی هم کوي او د اختصاصیت په مفهوم سره کارېږي، ځکه د حق لپاره بلبل ځانگړی شوی.

د ده زړه د حــــــق بلبــــــــل دی
د بلبـــــــل شـــــغل لـــــــه باغـــــــه
(خویشکی، ۲۰۰۵، م ۲۸۲).

په دې بیت کې (د حق بلبل) ترنګ د خپلو نورو توکو او لفظونو سره په تړاو یو تصوفي تعبیر لري او د بیت مرکزي ټکی دی. په تصوف کې د حق بلبل رباني، خوشنوا او خوږژبی صوفي او سالك دی چې تل په مدامي او همیشني ذکر او فکر کې بوخت وي او د حق تعالی ثناءخوان او ستایونکی بللی شي. دا تصوفي ترنګ هم د رباني صوفي او سالك لپاره د یو کنایوي سېمبول په توګه کارېږي. په تصوف کې د حق بلبل لپاره ګڼې توصیفي او ستاینـزې بنې کارېږي. لکه خوشنوا، خوږژبی، اوږژبی، په خوښی کې ترانه ویونکی، په درد کې نغمه سرا، په سوز سره ترنم کوونکی او نور...

✓ **اور پښتـي:**

دا هم په نحوي بڼه یو نومیز نښتی ترنګ دی او یا یو ټاکلی ترکیب دی چې معمولاً د یوې مرکبـې کلمې په توګه په یوه ټاکلي او ځانګړي شي پورې اړیکه لـري.

دا اورپښـــــــــــتی پــــــــــه اور پښـــــــــــتي
خفـــــــــاش تښـــــــــتي لـــــــــه چراغـــــــــه
(خویشکی، ۲۰۰۵، م ۲۸۲).

په دې بیت کې د (اور) کلمه د پښتی کلمې سره نښتې اړیکه پالي. د دې اړیکې او تړاو نه وړاندې د (اور) کلمې ته لږ تم کېږو، نو اور په ځینو ټولنو کې ښه او په ځینو کې بد ګڼل شوی. دا «اور د نور او ښکلا په معنا دی، د زړورتیا او مېړانې مفهوم هم لري که عاشق د چا په مینه او عشق کې وسوزید او لولپه شو، یعنې په عشق کې سوزیدو او ستي ته هم وایي. د دې ترخوا یې د شېطان لپاره یو کنایوي سېمبول هم بللی شو او د غضب، غوسې او قهر په معنا هم کاریدلی دی»(دهخدا، ۱۳۷۷، م ۸۵).

دلته اور ته نور وویل شو، نو نور زموږ د دیني روایتونو او مقدساتو له مخې ښه او مثبت مفهوم لري چې ګڼې معناوې په ځان کې رانغاړي. په قران کریم او حدیثونو کې یې هم یادونه شوې ده. په تصوف کې نور د حق ظهور او څرګندیدل دي، یعنې د حقیقي ذات نور او تجلي په ټولو

مخلوقاتو او کایناتو کې ځلیږي. همدې نور په طور کې پر موسی علیه السلام هم تجلي وکړه. بله داچې نور د رڼا او روښاني معنا هم لري چې نیکبختي او سوکالي پکې نغښتې او د تیارو او بدبختیو متضاد اړخ لري. دا نور له لمره هم سرچینه اخلي او لمر بیا ډېرې ګټې لري. هلته نور د زړورتیا او مېړانې په مفهوم هم وکارېده، نو نور په ډېرې زړورتیا او مېړانې د تیارو وزرې ماتوي او په رڼا یې وینځي. د مینې او عشق خبره هم پکې یاده شوه، نو په عاشقۍ کې مینه او عشق خپل سوز او ګداز لري او خپلې سوزنده او اورجنې شېبې لري.

بل اړخ ته بیا شیطان ته هم یاد شو چې شیطان هم له اور جوړ دی او په دې اور کې کبر، غرور او سرغړاوی نغښتی دی. بل د غضب، غوسې او قهر یادونه وشوه، د دې لوی لامل هم تکبر او غرور دی، ځکه انسان ته غضب، غوسه او قهر هغه وخت ورځي چې له خپلې ارادې خلاف کار ووینې، نو تکبر یې غضب کولو او غوسې ته هڅوي.

دا خبره به وکړو چې اور په ژمي کې مطلوب او غوښتونکی شي او په اوړي کې د انفعالیت اړخ خپلوي، یعنې په ژمي کې د تودوالي اړخ رانغاړي، خو همدا اور په اوړي کې تښتونکی شي، یعنې یوازې تاو او تپ یې دومره سوزونکي شي چې ځېزونه او شیان یې تاب او ځواک لرلې نه شي.

موږ د پښتو په عادي ژبه کې هم د (اور ژبی، اور ژبي) یوه ترکیبي محاوره کاروو او هغه چا ته یې وایو چې فصیحه او بلیغه ژبه ولري او یا په خوږه، روانه او اغېزناکه ژبه خبرې او بیان کوي.

موږ د اور په کلمه لږ څه خبرې وکړې او بېلابېل اړخونه او تعبیرونه یې راڅرګند شول. اوس به راشو خپل تصوفي ترکیب ته، نو په دې پاسني بیت کې (اورپېښتی) په لغوي بڼه د پتنګ او پروانه په معنا دی چې په ډېوه، شمعې او څراغ باندې ځان ستي او وریتوي، خو دا نومیز ترګ د خپلو نورو توکو سره په اړیکه کې یو تصوفي مفهوم رانغاړي چې د بیت مرکزیت پې ولاړ دی. دا په تصوف کې یو ترکیبي سېمبول دی او هغه صوفي او سالک ته وایي چې په حقیقي مینه او عشق کې د سوز او ګداز په تبې وریت شي او یا یې په کړایې کې ځان وسوزوي. دلته بنستېزه خبره دا ده چې سالک په تصوفي ریاضتونو، تجربو او مشاهدو کې ډېر کړاوونه ګالي، نو بیا یې د زړه د حقیقي نور راډکېږي.

✓ **خروړی سپی:**

دا په نحوي لحاظ یو توصیفي ترکیب دی، یعنې ستاینوم ترنګ يې (خروړی) او (سپی) يې ستاینوم او صفتي نوم دی. دلته صفت+ موصوف = خروړی سپی دی. دلته صفت د موصوف تابع ګرځيدلی او ترمنځ يې اړیکه توصیفي ترکیب ګڼلی شو.

نـــــوس پلیـــــت خـــــروړی ســـــپی دی

پـــــاک بـــــه نشـــــي بـــــې د بـاغـــــه

(خویشکی، ۲۰۰۵، م ۲۸۲).

که څه هم سپی یو حیوان او ژوی دی چې اهلي کېږي او خلك يې د پیره دار او ساتونکي په توګه پالي او ساتي، د دې توس وهل، غپل، داړل، سپیتوب او جنګ يې ستاینومونه ګڼلی شي. د پښتو په عادي او ورځنۍ محاوره کې سپی او سپیتوب د دنیا غوښتنې، وږسترګي توب، شومتیا، حرص، جنګ کوونکي او در په در ګرځېدونکی لپاره کنایه بلل کېږي.

په پاسني بیت کې (خروړی سپی) ترنګ د خپلو نورو توکو او لفظونو سره په ټراو یو تصوفي مفهوم لېږدوي او د بیت مرکزیت هم رانښيي چې ټېنګاري ځانګړنه لري. دا تصوفي ترنګ په تصوف کې د توسن، سرغړونکي، وږسترګي، ځان غوښتونکي، حریص او پلیت نفس لپاره سېمبولیکه کنایه ده چې دې نفس ته اماره نفس وايي او اماره نفس حیواني، سرغړونکي او غریـزوي خویونه لري. په تصوف کې سالك ته د دې نفس د ټکونې، ځپلو، رټنې او کورې کولو لارښوونې او سپارښتنې کېږي.

✓ **دوبین:**

دا د دري ژبې عددي ترکیب دی چې یو پراخ او مرکب مفهوم لېږدوي، یعنې یوه معنا يې دوه لیدونکی ده.

✓ **توره زاغه:**

دا هم په نحوي بڼه یو توصیفي ترکیب دی، یعنې ستاینوم ترنګ يې (توره) او (زاغه) يې ستاینوم او صفتي نوم دی. دلته هم صفت+ موصوف= توره زاغه دی. دا اړیکه بیا توصیفي ترکیب ټېنګه کړې ده.

ارزانـــــــــي وينـــــــــا ده پټـــــــــه
لـــــــــه دوبينـــــــــه تـــــــــوره زاغـــــــــه
(خویشکی، ۲۰۰۵، م ۲۸۲).

په دې بيت کې (دوبين) عددي ترنگ او (توره زاغه) توصيفي ترکيب او ترنگ په څپو ښکاري او دواړه د تمرکز وړ دي چې د خپلو توکو او لفظونو سره په تړاو يو تصوفي مفهوم او معنا ښندي او د بيت مرکزيت پر دواړو ولاړ دی. دلته موږ لومړی دوبين باندې خبره کوو. دا هغه څوک دی يا هغه «کس دی چې په زړه کې په دوو پيداکوونکو باور او عقيده ولري، يو يې د خير او رڼا خالق وبولي او بل بيا د شر او تيارو خالق وګڼي، دا عقيده او باور په زردشتيانو کې دود او موجوده وه چې اهورا مزدا او اهريمن باندې يې ټينګ باور او عقيده درلوده» دهخدا، ۱۳۷۷، م ۲۶۵).

دا په تصوف کې هغه کس ته وايي چې يو ورته دوه ښکاري او په زړه يې د تورګومان شخ او سخت درب ولاړ وي، يعنې «هغه کس چې ماسوا کې ګرفتار وي چې يو دوه ويني»(خويشکی، ۲۰۰۵، م ۱۱۵۱).

بل په دې بيت کې (توره زاغه) ترنګ دی چې د خپلو نورو لفظونو سره په تړاو يو تصوفي مفهوم ښندي او د بيت په مرکزيت کې غوښنه ونډه اخلي. دا په تصوف کې يو ترکيبي سېمبول ګڼلی شي او هماغه دوبين يې بولي چې يو ورته دوه ښکاري، يا چې په يوه سترګه دوه ويني، يا په زړه کې دوو ته ځای ورکوي او په شرک کې ډوب وي. دا د مشرک، بې دينه او بې ديني لپاره سېمبوليکه کنايه ده.

✓ **پليت نفسک:**

دا بل نحوي توصيفي ترکيب دی، يعنې ستاينوم ترنګ يې (پليت) او (نفسک/ نفس) يې ستايلی او صفتي نوم دی. دلته هم صفت+ موصوف = پليت نفس دی، يعنې صفت د خپل موصوف تابع ګرځېدلی.

دا د لـــــــــوړې تېـــــــــغ در واخلـــــــــه
پـــــــــرې پليـــــــــت نفســـــــــک وکـــــــــوږه
(خويشی، ۲۰۰۵، م ۲۵۰).

په دې بیت کې (پلیت نفسک/ نفس) ترنګ د خپلو نورو کلمو او لفظونو سره په تړاو یو تصوفي مفهوم او تعبیر رسوي، خو د بیت مرکزي مزي یې هم راټینګ کړي دي. دا یو تصوفي ترکیب بللی شو چې د ناولي، ګنده او بد عمل معنا لري، خو یو کنایوي سېمبولیک اړخ هم لري چې اماره نفس لپاره کنایه ده او «په انسان ټولې بدې کړنې او ناوره چارې اماره نفس ترسره کوي چې دې نفس ته صوفیان پلیت، حیواني، یاغي او ناوړه نفس وايي.»(اغېز، ۱۴۰۱، م ۹۵).

- ✓ **د زړه طواف:**

دا هم په نحوي بڼه یو نومیز اضافي ترنګ دی چې د اضافت (د) توري په مرسته یې له یو بل سره اړیکه ټینګه پالي.

چې د زړه طواف یې وکه
راسته لار د دغ حاجي ده
(خویشکی، ۲۰۰۵، م ۲۵۵).

په دې بیت کې (د زړه طواف) او (راسته لار) دوه ترنګونه د تمرکز وړ دي چې داوړه د خپلو نورو توکو او لفظونو سره په اړیکه کې تصوفي مفهوم او معنا رسوي، خو د بیت محوریت هم پې راڅرخي. دلته (د زړه طواف) اضافي ترنګ په تصوف کې یو کنایوي ترکیبي سېمبول دی. زړه په تصوف کې د ټولو صفتونو، پرېکړو او کړنو مرکز دی او یا زړه د الهي رازونو او معنوي اسرارو زیرمه ده، هغه چې له الهي نوره ډکېږي او یا یوه روحاني او رباني لطیفه ده. طواف په مجازي توګه ګرځېدنه او دوره وهل دي، خو په تصوف کې د تحیر مقام دی، د یو ډول سرګردانۍ او حیرانۍ شېبې دي» د ابن عربي په اند هماغه د تحیر مقام دی چې بنده او سالک د حق په مونده او لټون کې د سرګردانۍ شېبې او حالت کې څرخېږي، خو د نفساني ځواک طایفین یې د اخلاقي فضلیتونو د کسبولو لپاره په خپل زړه راڅرخېږي» (سعیدي، ۱۳۸۳، م ۴۴۳).

- ✓ **راسته لار:**

دې ته هم یو نحوي توصیفي ترنګ ویلی شو چې په دیني او تصوفي اړخونو کې یو پراخ او مرکب مفهوم لېږدوي.

چـــــې د زړه طـــــواف يــــې وکـــــه
راســـــــــته لار د دغ حاجـــــــــــي ده
(خويشی، ۲۰۰۵. م ۲۵۵).

په دې بيت کې دويم (راسته لار) ترنګ هم په څېر دی چې (د زړه طواف) ترنګ سربېره نورو کلمو او لفظونو سره په اړيکه کې يو بل تصوفي مفهوم او تعبير وړاندې کوي او د بيت په محوريت کې ونډه هم اخلي. دا د سمې، ښې، رښتينې لار او رښتينولی په معنا دی، خو په تصوف کې يو ترکيبي سېمبول دی چې سالک او صوفي بايد په حقيقي، سېده، رښتيني لار کې هلې ځلې وکړي او يو قـدم هم کږې لار ته تمايليت ونه لري؛ که له سمې او نېغې لارې وګرځېد، نو دنيا او اخرت دواړه يې خراب شول او ټول کړاوونه، ستونزې او ربړې يې اوبو يوړې.

که دې ټولو (يوه ګرامه، توره يـره، اسم شانه، د لوړې تېغ، خروړی سپـی، توره زاغه، پليت نفس، د زړه طواف، راسته لار او...) ترکيبونو او ترنګونو ته ځېر شو، نو سېمبوليک، کنايوي او استعاري اړخونه او کوډونه لري چې د عادي ژبې له مخې يوه معنا لري، خو چې د بيت له نورو لفظي او معنوي اړخونو سره يې اړيکه او تړاو وګورو، پوهېږو چې معنا او رنګ يې بدل او اوښتی او دا بدله معنا او بدل رنګ يو بل څه وړاندې کوي چې هغه تصوفي اړخونه او رنګونه رانغاړي.

- ✓ **واجب الوجود:**

دا يو نحوي توصيفي ترکيب دی، يعنې ستاينوم ترنګ يې (واجب) او (وجود) يې ستايلی او صفتي نوم دی.

ارزانــــــــي ده نشـــــا کــــــړې
کـــــل لـــــه واجـــــب الوجـــــوده
(خويشکی، ۲۰۰۵، م ۲۴۷).

په دې بيت کې (واجب الوجوده) ترنګ د خپلو نورو کلمو او لفظونو سره په تړاو يو تصوفي تعبير لري چې د بيت مرکزيت يې راټېنګ کړی او د شاعر ټېنګار هم په دې ترنګ خورا زيات ښکاري. دا يو ځانګړی تصوفي ترنګ دی او هغه ذات چې د هغه وجود د هغه د ذات متقضا او غوښتونکی وي، څنګه چې د هغه له شان او شوکت، عظمت او پرتم سره ښايي او د ذرې هومره چا ته اړ نه

دی، بلکې ټول ده ته اړ دي، یعنې «هغه ذات چې په خپله موجود او قدیم دی، د خپل وجود او بقا لپاره د چا محتاج نه دی او ټول د ده محتاج دي»(خویشکی، ۲۰۰۵، م ۱۱۶۳).

✓ **چار عنصر:**

دا په نحوي بڼه یو عددي ترکیب او تړنګ دی چې یو پراخ او مرکب مفهوم لري.

جـــــامې ســـــکنې رغوینـــــــه

لـــــه دې چــــار عنــــصر خیاطــــه

(خویشکی، ۲۰۰، م ۲۴۹)

په دې بیت کې (چـار عنصـر) د دري ژبې تړنګ دی چې د خپلو نورو توکو او لفظونو سره په اړیکه کې یو تصوفي مفهوم لري چې د ټول بیت مرکزیت سره یې مرسته کړې ده. دا په تصوف کې یوعددي ترکیبي سېمبول دی چې د انسان د بدن او کالبد د جوړښت او سکښت څلور عنصـره بلل کېږي، لکه خاوره، اوبه (نم)، اور (تودوخه) او هوا دي. دې ته صوفیان په تصوفي انداز د لطایفو تزکیه وایي، یعنې «یو شمېر صوفیان وایي له هغو لطایفو نه چې مادي او معنوي یا ظاهري او باطني وجود انسان ترې جوړېږي، لس لطیفې دي، له هغو نه پنځه لطیفې د خلق عالم دي، یعنې څلور یـې څلورګوني عناصر او پنځم یې نفس دی او پنځه نور یــې چې د امر له عالم نه دي، زړه، روح، سر، خفي او اخفـي دي»(نقشبندي، ۱۳۸۹، م ۲۶۲).

✓ **پنځه حسه:**

دا په نحوي لحاظ یو عددي ترکیب او تړنګ دی چې یو پراخ او مرکب مفهوم وړاندې کوي.

کــــه د پیـــر پـــه امـــر چــــار کــــړې

تــــه بــــه بنــــد کــــړې پنځــــه حســــه

(خویشکی، ۲۰۰۵، م ۲۷۰).

په دې بیت کې (پنځه حسه) تړنګ د نورو لفظونو او کلمو سره په تړاو یو تصوفي معنا لري چې تر ټولو کلمو ټېنګاري اړخ یې پیاوړی دی. دا تصوفي تړنګ په تصوف کې د عشق پنځه دروازې بلل کېږي، یعنې هغه بهرني پنځه ګوني حواس دي چې انسان ته ورکړل شوي او هغه دا دي: د اورېدلو، لیدلو، لمس کولو، بوی کولو او خوند کتلو حسونه دي چې دا هر یو خپله دنده لـري. یو سالک ته

په دې ټېنگار کېږي چې دا پنځه واړه حسونه به په خپله ولکه کې ټېنگ ساتي، خو په دې ټولو کې د سترگو رول ډېر اړين دی او په تصوف کې د سترگو او نظر ټېټ ساتلو باندې ډېر ټېنگار کېږي.

- ✓ **شناخته بنده گي:**

دا په نحوي بڼه يو توصيفي ترکيب دی او مرکب اړخ لري او په ځان کې يو پراخ تصوفي مفهوم رانغاړي.

چې شناخته بنده گي کاندي
په حساب دي له معاصه (خويشکی،
۲۰۰۵، م ۲۷۷).

په دې بيت کې (شناخته بنده گي) ترنگ د خپلو نورو توکو او لفظونو سره په اړيکه کې يو تصوفي تعبير رسوي او په بيت کې اړين توکی او ترکيب دی. دا د تصوفي معرفت لپاره يو ترکيبي سېمبول دی او دا هغه حالت دی چې سالك او عارف پکې له ټولو غوښتنو نه مخ اړوي او د حق تعالی معرفتي جلوو او نورانيت لپاره په رښتيني توگه اشنايي پالي، يعنې په بنده گی کې يې هېڅ کمی نه کوي او ټول عبادتونه په کميني او تواضع، په درنښت او حرمت سره ادا کوي.

- ✓ **سماءالارض:**

دا هم يو نحوي ترنگ دی او مرکبه بڼه خپلوي، خو يو پراخ تصوفي مفهوم هم لري.

که طالب يې نن اشنا شه
له خالق سماء الارضه
(خويشکی، ۲۰۰۵، م ۲۷۸).

په دې بيت کې (سماء الارضه) ترنگ د نورو توکو او لفظونو سره په تړاو يو تصوفي مفهوم لېږدوي، خو د بيت مرکزي اړخ هم لري. دلته سماء د اسمان په معنا او په تصوف کې سماء عالم بلل شوی. ارض د ځمکې معنا لري چې تصوف کې ارضِ عالم دی، يعنې سماء لوړ او ډېر ټېنگ ولاړ دی او ځمکه پراخه غوړېدلې خوره شوې ده. دا ترکيبي سېمبول درې ډولونه لري: «يو- ارض: د خلکو صفات د حق په مقابل کې. دوه - لاندې د لوړ په مقابل کې، يعنې د فساد عالم اصلاح عالم په مقابل کې. درې - دنيايي ارض: دا د ژوند او ژواک ځای دی، انساني بدن چې مخلوق دی او د ظهور ځای دی، يعنې د روزی ظهور دی»(سجادي، ۱۳۸۳، م ۷۷)

✓ **حوض کوثر:**

دا په نحوي بڼه یو نومیز ترکیب دی، خو له دیني اړخه یوه مرکبه بڼه خپلوي او یو پراخ دیني او تصوفي مفهوم رانغاوي.

د تـــا زړه ~~حــــــوض کــوثــر~~ دی
اوبــــه وڅښــــه لـــه دغ حـــوضــــه
(خویشکی، ۲۰۰۵، م ۲۷۸).

په دې بیت کې (حوض کوثر) ترنګ د نورو کلمو او لفظونو سره اړیکه پالي او یو تصوفي موخه پکې پټه ده چې د بیت محور هم پې راڅرخي. دا یو تصوفي تشبیې ترکیبي سېمبول دی چې په جنت کې یوه پاکه سپېڅلې ویاله او خوږه رڼه چینه ده، یعنې سرچینه یې د کوثر خوږې اوبه دي، یعنې کوثر د کثرت په معنا او حوض د پاک ډنډ په معنا دی چې ډېر خیر او خیرکثیر پکې نغښتی دی. دا دوه میزابه (چینې او ویالې) لري چې له جنت نه یې سرچینه اخیستې ده، یو یې د سرو زرو او بل یې د سپینو زرو دي، په هغه راتویېږي، هغه چې حوض ته دننه کېږي او هغه چې له حوض نه بهر ته وځي.

د ټولو کایناتو سردار رسول الله صلی الله علیه وسلم وایي چې: (د کوثر حوض اوبه له شېدو سپینې او له شاتو خوږې دي.)، یعنې دا داسې غوره او ارزښتمنې اوبه دي چې الله تعالی د یوه پراخ حوض په بڼلو سره چې اوبه یې له شېدو سپینې او له شاتو خوږې او بوی یې له عطرو او عنبرو خوشبویه دي چې ځانګړو خلکو ته ورکول کېږي. په دې معنا د کوثر اوبو کې خیر، شفاعت، مېرښت، ډاډ، حکمت، علم، بشپړتیا او نور... نغښتي دي؛ که څوک په الهي ښېګڼو، تقواوو او خیر کې پټ وي، نو د کوثر اوبه به ورکړل شي او که چا کې تقوا، ښېګڼې او خیر نه وي، په ګناهونو، سرغړاویو او بدګڼو کې ډوب و نو تر بې برخې به شي.

په پاسني بیت کې حوض کوثر ترکیب یو پراخ تصوفي تعبیر او مفهوم لري چې په تصوف کې په جلالي تجلیاتو او الهي انواراتو د زړه مېرښت، بشپړتیا، تسکین او ډاډ دی. دلته شاعر د خپل مخاطب زړه د کوثر اوبو سره شتبیه کړی او داسې ورته وایي چې ستا زړه د کوثر سپېڅلی ډنډ او رڼه چینه ده، یعنې د نور او بریا چینه ده او دوه میزابې اړخ لري چې وسوسې، اندېښنې، حسد او نورې شېطاني شیبې ور دننه کېږي، خو د دې د بېرته ویستلو لار یې په «تصوفي ریاضتونو، ذکرونو،

عبادتونو او د نورو کړنو، مشاهدو او تجربو په مرسته بهر ته وځي، کله چې زړه له دې ټولو پاک او ستوره شو، نو زړه به ډاډ واخلي او په مړښت کې به ونغاړل شي، دلته سپارښتنه دا ده چې تل له دې رنې او سپېڅلې چینې، ډنډ او حوض نه خوړې اوبه څښه، ځکه په دې سره ټول بدن د سمون او رغون په جامو کې پټېږي؛ که د دې چینې اوبه درنه خرابې او خوسا شوې، نو ټول وجود به دې ناوړه او ګنده شي. دلته د حدیت مفهوم دی که زړه روغ او سم و نو ټول بدن روغ او سم دی»(اغېز، ۱۴۰۱، م ۱۱۲).

✓ **آب فراط:**

دا په نحوي لحاظ یو نومیز ترېنګ دی چې یو پراخ او مرکب مفهوم لېږدوي.

تـــــه تشــــــنه ور خبــــــر نـــــــه یــــــې

لـــــــــه دې کـــــــــور آب فراطــــــــــه

(خویشکی، ۲۰۰۵، م ۲۷۸).

په دې بیت کې (آب فراطه) ترېنګ د خپلو نورو توکو او لفظونو سره ترېښت لري او یو تصوفي تعبیر او معنا لري چې د بیت مرکزیت یې راټېنګ کړی. دا ترکیب د هغو ګډو اوبو لپاره کارېږي چې څو قبیلې او کلي پکې په مساوي او برابر ډول برخه ولري، دا اوبه چې لومړی پر کومې قبیلې او کلي تېرېږي، هغو ته باید لومړی اوبه ورکړل شي او نور باید ګډوډي ونه کړي. په تصوف کې یو کنایوي ترکیبي سېمبول دی چې د رښتیني عاشق شدېده تنده ده، یعنې سالك او صوفي د خپل حقیقي محبوب د تجلیاتو او نورانیت خړوبېدو او ماتېدو په موخه له انتظاره ډکې شپې تېروي، تر هغو چې زړه یې له نورانیت او جلوو راډك شي او تنده یې ماته شي.

دلته شاعر خپل مخاطب ته وایي چې ته په لوی کور کې تږی ګرځې، خو په دې خبر نه یې که «هر تږی لومړی اوبو ته مخکې شو، نو هماغه به خړوب شي او تنده به یې ماته شي او د نورو د کړاو او رنځ نه به خلاص شي. دلته اصل خبره دا ده چې سالك ته وایي چې ستا په زړه کې داسې یو لوی ذات موجود دی چې د تږیو خړوبونکی او تندې ماتېدونکی دی، د لوږې او وږو موړونکی او پالونکی دی، نو همدې یو ذات ته د منښتې او درناوي غاړه کېږده او سجدې ورته ولګوه چې ټول کړاوونه او ستونزې دې حل کړي او هره ډول تنده دې ماته شي او ولـوږه دې په مړښت واوړي»(اغېز، ۱۴۰۱، م ۹۵).

✓ **موتې خاورې:**

دا هم یو توصیفي ترنګ دی چې یو پراخ او مرکب مفهوم وړاندې کوي.

زه بنـــــده یــــم مـــــوتې خــــاورې
ده ګویـــــا کړمـــــه ناطقـــــــه

(خویشکی، ۲۰۰۵، م ۲۹۵).

په دې بیت کې (موتې خاورې) توصیفي ترنګ د نورو کلمو او لفظونو سره په تړاو یو تصوفي مفهوم لري او تر ټولو یې د بیت په پیاوړتیا کې ونډه ډېره ښکاري. دا په تصوف کې یو ټاکلی ترکیبي استعاري سېمبول دی چې انساني جسم او بدن له څلورګونو عنصـرونو جوړ شوی چې لومړی عنصـر یې موتې خاوره ده او په خاوره کې عاجزي او کمیني نغښتې، بله داچې تشبېهي اړخ کې بیا شاعر ځان د موتې خاورې سره ورته ګڼلی، ځکه صوفیان ځانونه موتـی خاوره بولي او خاوره د کمینی ځانګړنه لري، نو دوی جسم او کالبد بېرته خاورې ګڼـي چې دا یو حقیقت هم دی، خو روحاني روح تلپاتـې بولـي.

د انسان ماهیتـي جسم، کیفیتـي او فزیکي وجود له یوې موتې خاورې نه جوړ دی، یعنې د انسان آربنسټ خاوره ده. حضرت انسان ته په ټولو مخلوقاتو کې یوځانګړی مقام وربښل شوی او ګڼې ځانګړنې ور کړل شوي دي، له دې ځانګړنو یوه دا ده چې په خوله کې یـې د غوښې یوې ټوټې ته د غږېدلو او کړېدلو ځواک ورکړی چې نور ټول مخلوقات له دې ارزښت نه بې برخې دي. انسان ته یې دومره لوړ مقام ورکړی چې ملایکو هم ورته د درناوي او کرامت تندي ولګول. دلته شاعر ځان مخاطب کړی، خو آرموخه یې حضـرت انسان دی، ځکه دی په خپله هم د انسان او انسانیت په جامو کې پټ و.

✓ **دوه جګه:**

دا یو عددي ترنګ دی چې د یو پراخ او مرکب مفهوم سره سره د خپل معدود سره هم ګرداني سمون ښیي.

ارزانـــــــي وي غېـــــــرې نشـــــــته
یــــو اللـــــه دی پـــــه دوه جګـــــه

(خویکی، ۲۰۰۵، م ۲۹۵).

په دې بیت کې (دوه جګه) عددي ترنګ د خپلو نورو توکو او لفظونو سره په اړیکه کې یو تصوفي تعبیر رسوي چې د بیت مرکزیت په همدې ترکیب پوره اړه لري. دا د اسمان او ځمکې معنا ښندي او په تصوف کې یو ترکیبي سېمبول دی چې اسمان د سماء عالم په نوم یادېږي او ځمکه بیا په ارض عالم دی، یعنې سماء لوړ او ډېر تېنګ ولاړ دی او ځمکه پراخه غوړېدلې خوره شوې ده.

ارزانـي دا خبره ښه په ډاګه کوي چې نور هېڅوک نه شته او ماسیوا او پرته د الله تعالی نه چې هغه احد، صمد او یو دی، هغه جل جلاله په ځمکه او اسمان دواړو کې موجود او په ټولو کایناتو او مخلوقاتو یـې د خالقیت او حقانیت جلوې او وړانګې خـورې دي او د ټولو واکوال دی او په هر څه برلاسی دی او تر ټولو ښه او ډېر پالونکی دی.

✓ **شب پرک/ شوپرک:**

دا یو نحوي نومیز ترکیب دی چې په عادي او تصوفي بڼه یو پراخ او مرکب مفهوم لېږدوي.

د وحـــــدت نمـــــــر دی ختلـــــــی

شـــب پـــرک تښــــتي پـــــه ســــیوري

(خویشکی، ۲۰۰۵، م ۳۴۵).

په دې بیت کې (شب پرک/ شوپرک) ترنګ د نورو توکو او لفظونو سره په تړاو یو تصوفي مفهوم او تعبیر لري او د بیت مرکزیت یې راټېنګ کړی» دا یو تصوفي ترنګ دی چې د شېطان او شېطاني لار، د جهالت او ناپوهۍ لپاره کنایه ده چې دواړه لارې بې ایماني ده او بې ایماني تورتم او تیاره ده، یعنې که څوک په الله تعالی ایمان نه لري،د هغه په پیغمبرانو، په ملایکو، د جزا او قیامت په ورځ ایمان نه لري، هغوی یو ډول ذهني ګډوډیو او اندېښنو سره مخ دي، لکه په تیاره کې چې روان وي او هېڅ لار نه ګوري، بلکې تل ورخطا او بې زړه وي او هره شېبه یې کندې ته د غورځېدو شونتیا ډېره وي. دا ډول خلک لار ورکي او ناپوهان دي، نو سالک ته د سېده، سمې او روغې لار باندې د تګ او رڼایـي سپارښتنه کېږي، دا ځکه په دې لار کې دنیایي او اخروي بریاوې نغښتې دي»(اغېز، ۱۴۰۱، م ۱۶۲).

**پایله**

په پښتو کې ترکیبونه او ترنګونه د دوویا له دوو زیاتو کلمو او لفظونو یو ترښت او ګډ ترون بلل کېږي چې یوه درېیمه کلمه رامنځته کوي او بیا بله ځانګړې معنا ورکوي، یعنې ترکیب د دوو یا زیاتو (خپلواکو او ناخپلواکو) کلمو او مورفیمونو یو ځای کېدل دي چې اجزا او توکي یې یو له بله سره ګرامري اړیکه وپالي او تر منځ د همغږۍ تړاو په څېو وي. په ترکیب کې یوه کلمه یې د بلې کلمې تابع وي او تر کلمې پراخ مفهوم او تعبیر څرګندوي.

په تصوف کې تصوفي ترکیبونه او ترنګونه چې په تصوفي پنځونو کې وپنځول شي، دا نوې اړیکې رامنځته کوي، نوې تجربې وړاندې کوي، خو دا نوې اړیکې یو له بله سره همغږي او تړاو پالي چې د تصوفي مشاهدو او تجربو له مخې رازیږي که دغسې تصوفي ترکیبونه په خپله کومه معنا ونه لري او هسې مرکب اړخونه ولري، خو د نورو تصوفي لفظونو، توکو، کلمو، مشاهدو او تجربو له مخې ورته معناوې، انځورونه، سېمبولونه او تعبیرونه ټاکلی شي او بیا په ښه بڼه تفسیر او تحلیل کیدلی شي.

موږ په خپله څېړنه کې هڅه وکړه چې د تصوفي لید او فکر له مخې د ملا ارزاني په شعر کې تصوفي ترکیبونه او ترنګونه راوسپړو، ځکه ده هم په لوړه کچه خپلې صوفیانه تجربې او مشاهدې پاللي دي، خو انداز یې کرکېچن ښکاري. ده په خپل شعر کې دومره په درنه کچه ترکیبونه راوړي چې په هر غزل کې را ترسترګو کېږي. دا تصوفي ترکیبونه یې څه په دې ډول دي، لکه (یوه ګرامه، توره یـره، اسم شانه، د لوړې تېغ، توره زاغه، پلیت نفس، د زړه طواف، راسته لار، واجب الوجود، چار عنصـر، پنځه حسه، شناخته زنده ګي، حوض کوثر، آب فراط، موتې خاورې، بد ګومان، لا مکان او...) موږ په دې ترنګونو کې د تصوفي تعبیرونو او معناوو سره سره سېمبولیک، کنایوي او استعاري اړخونه او کوډونه هم را په ګوته کړل چې له عادي ژبې سره یې معنا او تعبیر بدل رنګونه لري چې دا بدل رنګونه یو بل څه راښیي او هغه تصوفي اړخونه او تعبیرونه راڅرګندوي.

**ماخذونه**


۱. اغېز، عبيدالله. (۱۴۰۱ ل). *د ارزاني خويشکي د منتخبو شعرونو شرحه*. جلال اباد: ذکريا گرافيکس.

۲. خويشکی، ارزاني. (۲۰۰۵ م).*کليات*. د ډاکټر پرويز مهجور خويشکي، سمونه او څېړنه. پېښور: جدون پرنټنګ پريس.

۳. دهخدا، علي اکبر. (۱۳۷۷ هـ. ش).*لغتنامه دهخدا*. چاپ هشتم. تهران: انتشارات موسسه.

۴. ربښتين زيور، زرغونه. (۱۳۸۲ ل). *پښتو نحوه*. پېښور: د ساپي پښتوڅېړنو او پراختيا مرکز.

۵. سجادي، جعفر. (۱۳۸۳ هـ. ش). *فرهنګ اصطلاحات و تعبيرات تصوفی*. چاپ هفتم. ايران: کتابخانه ملی.

٦. سعيدي، ګل بابا. (۱۳۸۳ ل). *فرهنګ اصطلاحات و تعبيرات تصوفي*. ايران: کتابخانه ملی.

۷. شفيعی کدکنی، محمد رضا. (۱۳٦٦ هـ. ش). *شاعرآينه ها (بر رسی سبک هندی و شعر بيدل)*، چاپ اول. تهران: مرکز آگاه.

۸. ښکلی، اجمل. (۱۳۹٦ ل).*ادبستان*. جلال اباد: کلاسيک خپرندويه ټولنه.

۹. علي پور، مصطفی. (۱۳۸۷ هـ. ش) *ساختار زبان شعر امروز (پژوهشی در واژه گان و ساخت زبان شعر امروز)*، چاپ سوم. تهران: انتشارات فرودس.

۱۰. نقشبندي، شيخ امين علاءالدين. (۱۳۸۹ ل). *د تصوف حقيقت او د نقشبنديه طريقې يو بحث*. د پوهاند بشير دوديال، پښتو ژباړه. کابل: ميوندخپرندويه ټولنه.

۱۱. هاشمي، سيدمحی الدين. (۱۳۸۳ ل). *د پښتو ژبې لنډه ګرامر*. پېښور: د اريک ګرځنده کتابونه اداره.

۱۲. هلال، فريداحمد. (۱۳۹۰ ل). *د پښتو نحوه*. جلال اباد: کتاب خپرندويه ټولن